# د نظارت شوي تولنيز علاج د 3 برخې  ناروغانو د پاره

(د 1983 د دماغي روغتيا لايحه  17A برخه)

| | |
|---|---|
| 1. د ناروغ نوم | |
| 2. د هغه کس نوم چه ستاسو د علاج صلاحيت لري ( ٌ ستاسو د معالجې د پاره مسول شخصٌ) | |
| 3. هغه تاريخ چه ستاسو نظارت شوي تولنيز علاج شروع کيږي | |

## ولي زه د يوه نظارت شوي تولنيزعلاج لاندي يم ؟

تاسو د نظارت شوي تولنيزعلاج د 1983 د دماغي روغتيا لايحې تر 17A برخه لاندي قرار لري ددي دپاره چه ستاسو مسؤل کس( ستاسو د معالجې د پاره مسول شخص) فکر کوي چه ستاسو روغتيايي حالت بنه دي چه بايد روغتون  ترک وکړي لاکن داسي فکر کيږي چي تاسو نشي کولاي چه خپل علاج ته دوام ورکړي، او يا کيداي شي چه ته بيا روغتون ته د يوي لندي يادوني وروسته د نور علاج د پاره حاضر شي.

نظارت شوي تولنيزعلاج  دا معني لري چه ستاسو د مواظبت تيم تاسوته زياده مرسته رسوي او کوشش کوي چه روغ پاته شي البته پس له دي چه تاسو د روغتون څخه رخصت کيږي، لاکن که چيري ستاسود کيلنيک مسؤل کارکونکي فکر کوي چه بيا د علاج د پاره روغتون ته ضرورت لري،  کولاي شي تاسوته ووايي چه تاسو د ضروري علاج د پاره بيا روغتون ته راشي.

ستاسو د معالجې د پاره مسول شخص کيداي شي چه تاسو سره د علاج د ترتيب کولو په باره کي خبري وکړي او  ستاسو د دماغي ناروغي د علاج او مواظبت ضرورت د روغتون نه رخصت کيدوته وروسته په ګوته کړي.

## نظارت شوي تولنيز علاج امر څه شي دي؟

د نظارت شوي تولنيز   علاج  سفارش (امر) يوه فورمه دي چه ستاسو د کلينيک مسئول کسان او  د دماغي ناروغي د پاره يوه قبول شوي متخصص بايد هغه  خانه پوري کړي چه ووايي چه تاسو بايد په  نظارت شوي تولنيزعلاج  کي وي.

يو قبول شوي دماغي روغتيايي متخصص هغه کس دي چه هغه په ډيره ماهرانه توګه پي زده کړي ليدلي وي چه هغه ته په دي فيصله کي مرسته وکړي چه ايا اضافه له دي څخه ناروغ سړي ته ضرورت دي چه تر دماغي روغتيايي لايحې لاندي په روغتون کي پاته شي.

## پس له دي څخه چه زه روغتون ترک څه شي به پيښ شي؟

ستاسود معالجي د پاره مسول شخص ستا سره خبري كوي چه د نظارت شوي ټولنيزعلاج په موده كي څه شي پيښ شي.

كيداي شي چه تاسو څخه احتمالاً غوښتنه وشي چه تاسو د خپل علاج د پاره ټاكلي ترتيبات په نظر كي وساتي، او يا نور ترتيباتو چه د ستاسو د ژوند مصوئنيت او روغتيا سره په ټولنه مرسته وكړي اجرا كړي. دغه شيان د ٙ شرايطٙ په نامه يادیږي ، او د دماغي روغتيا د د لايحه تر 17B برخه لاندي اجازه وركول كيږي.

ستاسو د معالجي د پاره مسول شخص او يو قبول شوي دماغي روغتيائي متخصص بايد موافقه وكړي چه دغه شرايط مناسب دي، او تاسو ته ځيني ضروري مرستي وشي چه دوي په نظر كي وساتي. تاسو بايد خپل د معالجي د پاره د مسئول شخص سره خبري وكړي كه چيري تاسو د ځني دلايلو په اسلس په تشويش كي ياست كله چي د نظارت شوي ټولنيز علاج په دوران كي د ځيني شيانو د اجرا كولو، او نه اجرا كولو غوښتنه درڅخه كيږي.

## كه چيري زه شرايط پر ځاي كولاي نه شم څه به وشي؟

كه چيري تاسو يو شرايط هم پرځاي نكړي ستاسو د مواظبت تيم روغتون ته ستاسو د بيرته راتګ او په روغتون كي د علاج د ضرورت په هكله فكر كوي.

كيداي شي چه تاسو ته وويل شي چه بيا روغتون ته راشي كه چيري ستاسو د معالجي د پاره مسئول شخص فكر وكړي چه دغه يواځني لار ده او تاسو يقيناً علاج ته ضرورت لري. ځيني وخت دغه ممكن ضروري وي حتي كه چيري تاسي ټول شرايط پرځاي كړي هم وي. دغه روغتون ته ٙد بيا غوښتنه ٙ په نامه يادیږي.

كه چيري ستاسو د معالجي د پاره مسئول شخص فكر وكړي چه ته روغتون ته د بيا راتګ او بيا يادونه ضرورت لري، ستاسو د معالجي د پاره مسئول شخص تاسو ته خط ليكي چه تاسو ضرورت لري چه بيا روغتون ته په مستقيم ډول، او يا په يوه مشخص وخت كي راشي. كه چيري تاسو رانشي كله چه تاسو ته ويل شوي دي، كيداي شي چه تاسو روغتون ته جبري راوړل شي.

كه چيري روغتون ته ستاسو بيا يادونه او يا غوښتنه وشي، تاسو كولاي شي چه دلته تر 72 ساعت پوري وساتل شي. كه چيري ستاسو د معالجي د پاره مسئول شخص فكر وكړي چه تاسو ضرورت لري چه په روغتون كي ډير وخت پاته شي، يوه قبول شوي دماغي روغتيائي متخصص څخه غوښتنه كيږي چه ستاسره خبري وكړي. دغه ټول شيان تاسو ته په خپل وخت كي تشريح كيږي.

## څه رنګه علاج زه بايد په نظارت شوي ټولنيز علاج كي ولرم؟

ستاسو د معالجي د پاره مسئول شخص ستا سره ستا د علاج د ضروريااتو په هكله مشوره كوي او ټاكي چه كله او څرنګه په ټولنه كي ستاسو علاج وشي.

## زه كولاي شم چه خپل علاج رد كرم؟

تاسو دا حق لري چه علاج سره مخالفت او يا هغه رد وكړي كه چيري تاسو هغه نه غواړي، لاكن دغه دا معني لري چه ستاسو د معالجي د پاره مسئول شخص دا ضرورتويني چي روغتون ته ستاسو بيرته راتګ ته بيا تر كتني لاندي ونيسي.

كه چيري تاسو پيشنهادشوي شوي علاج نه غواړي، تاسو بايد ژر تر ژر د ستاسو د معالجي د پاره مسئول شخص سره خبري وكړي.

## څه به پيښ شي که چيري زه ډير ناروغ وم او نشم کولاي د خپل علاج سره د موافقي فيصله وکړم؟

که چيري هغه خلک چي ستا علاج کوي فکر وکړي چه تاسو دا توانائي نلري چه خپل ځان د علاج دپاره فيصله وکړي، دوي کولاي شي چه ستا د علاج دپاره هغه څې وکړي چي دوي فکر کوي چه ته ورته ضرورت لري .

لاکن دوي نشي کولاي په زور دغه علاج پر تاسو تحميل کړي که چيري تاسو مخالفت وکړي، پرته له هغه چي دا يوعاجل ضرورت دي.

دَ ظرفيت کموالیٌ دا معني لري چه تاسود دماغي ناروغي له کبله نشي کولاي چه له دغه لاندي څلورو شيانو چي يو او يا ډير سر ته ورسوي:

- هغه معلومات چه تاسو ته د علاج په باره کي ورکړل شوي دي بايد پوه شي.
- د دغه معلوماتو ساتل د يوي اوږدي مودي پوري ترڅو چه تاسو وکولاي شي يوه فيصله وکړي.
- د ورکړل شوي معلوماتو د سنجش سره سم تاسو يو فيصله وکړي.
- خپله فيصله د ځيني ممکنه وسايلو له لاري، لکه خبري کول، د ژبي د اشاري څخه استفاده کول، او يا حتي د ساده حرکاتو سره لکه سترګک وهل او يا د لاس فشار ورکول په واسطه ارتباط ورکړي.

پرته له هغه چي دغه يو عاجل کار دي، همدا راز نشي کيدلاي چي تاسوتر علاج لاندي ونيول شوي که چيري تاسو د مخه يوه کلکه قانوني فيصله د 2005 د دماغي ظرفيت تر لايحي لاندي رد کړي وي، او يا ځيني نور کسانو چي اجازه ورکړل شي چه ستاسو په غياب کي د مقرراتو سره سم تصميم ونيسي ويلي دي چه تاسو بايد دغه تداوي راته اخلي. دغه کسان کولاي شي هغوي ته دوامداره صلاحيت ورکړي وي وي چه تاسو هغوي ته د مدافع وکيلانو په يوه لست ورکړي وي، تاسو د پاره يوه تعين شوي استازي د څارني د محکمي له خوا او يا د څارني محکمي خپله وي. د روغتون کارکونکي کولاي شي چه تاسوته د 2005 د دماغي ظرفيت د لايحه په باره کي نور معلومات درکړي.

## خاص مقررات د دوا او د درمل په واسطه دعلاج په باره کي

کله چه تاسو په نظارت شوي ټولنيز علاج کي د يوي مياشتي څخه زياده موده و اوسي، ځيني خاص مقررات د دوا او درمل په واسطه د علاج په باره کي په نظر کي نيول کيږي.

که چيري تاسو ته دوا او يا طبي علاج ستاسو د دماغي ناروغي دپاره درکول کيږي، او دا د دري مياشتو نه اضافه وي د هغه وخت نه چه تاسو ته د لمړي ځل دپاره دغه رقم علاج درکړل شوي ۀ کله چه تاسو په روغتون کي او يا په نظارت شوي ټولنيزعلاج کي وي، کيداي شي چه ستا څخه د اجازت پوښتنه وشي چي يو مستقل داکتر (چه هغه د دغه روغتون له خوا چه تاسو علاج کيږي نه وي) تاسو معاينه کړي.

دغه مستقل ډاکتر د يوهSOAD ( د دوهمه نظريه ښودونکي ډاکتر ) په نامه ياديږي او د يوه مستقل کمسيون په واسطه مؤظف کيږي چه نظارت وکولاي شي چه د دماغي روغتيا مقرراتو څخه څنګه استفاده کيږي.

دغه داکتر چک کوي چه دغه علاج ستاسو دپاره صحيح دي، او تاسو سره د فيصلي څخه دغه خبري کوي چه تاسو څه ډول علاج ته دوام ورکړي.

تاسو ته فقط هغه دوائي او يا طبي علاج درکول کيږي چه دغه مستقل داکتر ويلي وي چه تاسو دپاره صحيح دي، پرته له دي چي دا يوه عاجله مسئله وي.

تاسو ته باید وویل شي چه کله او چیري مستقل ډاکټر غواړي چه تاسو معاینه کړي.  د یو مستقل داکټر کتل د نظارت شوي تولنیز علاج د شرایطو څخه یو دي. که چیري تاسو مستقل داکټر په هغه ځاي او هغه وخت چه تاسو ته ویل کیږي نه ویني، ستاسو د معالجي د پاره مسئول شخص مجبور دي چه تاسو ته بیا یادونه وکړي چه تاسو د مستقل داکټر د کتلو دپاره روغتون ته راشي.

دلته مختلف مقررات د ځیني خاص علاج دپاره وجود لري، لکه د برقي تکان ورکونکي علاج (ECT). که چیري خلک فکر وکړي چه تاسو د دغه علاج د جملي څخه یوه خاص علاج ته ضرورت لري، مقررات تاسو ته تشریح کیږي.

## څومره موده زه په نظارت شوي تولنیزعلاج کي باید پاتي شم؟

ستاسو د تولنیز علاج امر په لمړي ځل کي تر شپږ میاشتو پوري دوام کوي، پرته له هغه څخه چه ستاسو کلینیک مسئول کارکونکي فیصله وکړي چه دغه ته اضافه ضرورت نه دي.

ستا څخه پوښتنه کیږي چه تاسو خپل د معالجي د پاره مسئول شخص ته اجازه ورکړي چه تاسو د دغه شپږ میاشتو تر اخره پوري معاینه کړي، چه دوي وګوري چي ایا تاسو ضرورت لري چه  په نظارت شوي تولنیز علاج پاته شي.  کیداي شي چه تاسو ته  وویل شي چه کله او چیري ستا سي د معالجي د پاره مسئول شخص غواړي چه تاسو معاینه کړي.

د ستاسو د معالجي د پاره د مسئول شخص کتل او د معایناتو دپاره د نظارت شوي تولنیزعلاج د شرایطو څخه یو دي.  که چیري تاسو د معالجي د پاره مسئول شخص په هغه ځاي او  هغه وخت چه تاسو ته ویل کیږي نه ویني، ستاسو د معالجي د پاره مسئول شخص مجبور دي چه تاسو ته بیا یادونه وکړي د دي دپاره چه تاسو د معاینه دپاره روغتون ته راشي.

که چیري ستاسو د معالجي د پاره مسئول شخص  فکر وکړي چه تاسو ضرورت لري چه د علاج دپاره په نظارت شوي تولنیز علاج کي ډیر وخت پاته شي، دوي کولاي شي چه دغه ته تر شپږ میاشت نور هم  دوام ورکړي، او پس له دي نه یو کال فقط د یو ځل دپاره.  ستاسو د معالجي د پاره مسئول شخص کیداي شي چه تاسو سره            تر پایه پوري خبري وکړي.

## ایا زه درخواست (دعوي) کولاي شم؟

هوا. تاسو کولاي شي چه د معالجي د پاره د مسئول روغتون د منیجر څخه وغواړي چه ستاسو د نظارت شوي تولنیز علاج ته پاي ورکړي.    تاسو دغه ته په هر وخت کولاي شي. د روغتون منیجران په روغتون کي د ننه د اشخاصو  یوه  خاص کمیته دي چه فیصله کوي چه کوم ناروغان تر اوسه پوري ضرورت لري چه په نظارت شوي تولنیز علاج کي پاته شي.

ستاسو مسئول روغتون معمولاً هغه روغتون دي چه تاسو د مخه تر دي چه نظارت شوي تولنیز علاج ته ولاړ شي ته په هغه کي وي. که چیري ستاسو مسئول روغتون بدل شي تاسو ته ویل کیږي.

که چیري تاسو وغواړي چه د رغتون منیجران ستاسو نظارت شوي تولنیز علاج پاي ته ورسوي، تاسو په دي شکل دوي ته لیکلي شي.

Princess Marina Hospital
Upton
Northampton NN5 6UH

د روغتون منيجران کولاي شي د فيصلي د مخه تاسو سره خبري وکړي چه ايا ستاسو د نظارت شوي ټولنيزعلاج  پاي ته ورسوي.

همدا راز ستاسو نژدي قريبان هم  کولاي شي چه د روغتون د منيجران سره خبري وکړي چه دوي غواړي ستاسو د نظارت شوي ټولنيزعلاج  ته پاي  ورکړي. دغه نشريه وراندي تشريح کوي چه څوک ستاسو نژدي قريبان دي.

که چيري ستاسو نژدي قريبان دغه کار کوي، ستاسو د نظارت شوي ټولنيزعلاج پس له 72 ساعت پاي ته رسيږي، په غير د هغه صورت چي ستاسو د معالجي د پاره مسئول شخص د روغتون منيجرانو ته وايي چه تاسو خپل ځان ته او يا نور خلکو ته کيداي شي چه خطرناک وي که چيري تاسو خپله موجوديت په نظارت شوي ټولنيز علاج کي توقف ورکړي.
که چيري دغه رامنځ ته شوه بيا د نورو  شپږو مياشتو د پاي ته رسيدو د مخه به ستاسو نژدي قريبان قادر وي چه د روغتون منيجرانو ته بيا ووايي چه دوي غواړي چه ستاسو نظارت شوي ټولنيزعلاج پاي ته ورسوي.

همدا راز تاسو کولاي شي يوه محکمه وغواړي چه ووايي چه ستاسو   نظارت شوي ټولنيزعلاج بايد پاي ته ورسيږي.

## د محکمي دادګاه څه شي دي او څه پيښيږي؟

د محکمي دادګاه يو مستقل هيئت دي چه کولاي شي فيصله وکړي چه ايا ستاسو  نظارت شوي ټولنيزعلاج بايد پاي ته ورسيږي.   د محکمي دادګاه کيداي شي چه دوي ستاسو سره او د هغو کارکنانو سره چه تاسو وپيژني يو مجلس ونيسي.  دغه مجلس د اوريدلً په نامه ياديږي. تاسو کولاي شي چه ځيني نورو کسانو نه  غوشتنه وکړي چه دوي ستاسو د اوريدلو مرستي مجلس ته تاسوته ته راشي، که چيري تاسو وغواړي. د اوريدلو نه د مخه، د محکمي د دادګاه غړي ستاسو په باره کي د روغتون او د نظارت شوي ټولنيز علاج راپورونو لولي. د محکمي دادګاه د غړيو د جملي څخه يوه کس کيداي شي چه راشي او تاسو سره خبري وکړي.

## کله زه کولاي شم چه د محکمي د دادګاه دپاره وړانديز ورکړم؟

تاسو کولاي شي د محکمي د دادګاه دپاره يو وار  هر وخت ستاسو د لمړنيو شپږ مياشت نظارت شوي ټولنيزعلاج  په دوره کي وړانديز ورکړي.   پس له دي نه تاسو کولاي شي چه يو مراتبه په راتلونکي شپږ مياشتو کي وړانديز وکړي او وروسته يوه وار په هره کال کي چه تاسو پس له هغه چه په نظارت شوي ټولنيزعلاج پاته کيږي.

که چيري ستاسو نژدي قريبانو ته وويل شوي چه چه د روغتون منيجرانو غوښتل چه  نظارت شوي ټولنيزعلاج پاي ته ورسول شي ، لاکن ستاسو د معالجي د پاره مسئول شخص وايي چه دغه بايد پاي ته و نه رسيږي ، نو ستاسونژدي قريبان کولاي شي چه د يوي محکمي درخواست وکړي. ستاسو نژدي قريبان بايد پر 28 ورځو کي د هغه نيټه څخه چي ستاسو د معالجي د پاره مسئول شخص ستاسو د نظارت شوي ټولنيزعلاج د پاي ته رسولو چاري رد اقدام وکړي.

که چيري تاسو وغواړي چه د محکمي د دادګاه دپاره درخواست ورکړي تاسو کولاي شي چه دغه شي وليکي:

The Tribunals Service
PO BOX 8793
5th Floor
Leicester
LE1 8BN

تيلفون:0845 2232022

تاسو کولاي شي چه د یوه وکیل ځخه پوشتنه وکړي چه محکمي ته ستاسو دپاره ولیکي او تاسو سره د اوریدلو په جریان کي مرسته وکړي. ستاسو مسئول روغتون او حقوقي ټولنه د وکیلانو یو لست لري چه ځوک په دغه کي متخصص دي. تاسو مجبور نه یي چه د مرستي د یوه وکیل دپاره پیسي ورکړي. دغه د قانوني مرستي د پلان په اساس چارج نلري او مفت دي.

## اجازه ورکړي چه ستاسي نژدي قریبان ویوهیږي

د دغه نشریي یوه کاپي هغه کس ته ورکول کیږي چه د دماغي روغتیا لایحۀ ووايي چه هغه ستاسو نژدي قریب دي.

د دماغي روغتیا په لایحه کي یو لست دي چه کوم کسان ستاسو قریبان دي. پر طبعي ډول، هغه شخص چه په لست کي لومړیتوب لري هغه ستاسو د نژدي قریب ګڼل کیږي. د روغتون کارکونکي کولاي شي چه تاسو ته یوه نشریه ورکړي چه دغه تشریح کړي چه ستاسو نژدي قریبان ستاسو د مواظبت او اعلاج په ارتباط ځه حقوق لري.

که چیري تاسو نه غواړي چه دغه سړي یوه کاپي نشریه تر لاسه وکړي، لطفاً خپلي د معالجي د پاره مسئول شخص ، د کارکونکو ډلي غړي ته او یا هغه شخص ته دغه نشریه یي تاسو ته درکړي ده ووایي.

## ستاسو د نژدي قریبانو بدلول

که چیري تاسو فکر کوي چه دغه ستاسو د نژدي قریبانو په حیث یو مناسب سړي نه دي، تاسو کولاي شي چه د مربوطه محل په محکمه کي د یو بل کس دپاره درخواست ورکړي چه هغه وکولاي شي ستاسو د نژدي قریب په عوض چلند وکړي. د روغتون کارکونکي کولاي شي چه تاسو ته یوه نشریه ورکړي چه په هغه کي دغه تشریح شوي دي:

## د تمرین کود

دلته د تمرین یوه کود دي چه د دماغي روغتیا د لایحي په باره کي ستاسو د معالجي د پاره مسئول شخص ته او نورو هغه خلکو ته چه ستاسو په مواظبت او علاج کي اخته دي مشوره ورکوي. هغوي مجبور دي چه کود تر کتني لاندي ونیسي چه کود ځه ویلي دي کله چه دوي ستاسو د مواظبت په هکله تصمیم نیسي. تاسو کولاي شي پوشتنه وکړي چه د کود یوه کاپي د لیدو د پاره ورکړه شي، که چیري تاسو وغواړي.

## ځنګه زه شکایت کولاي شم ؟

که چیري تاسو وغواړي چه د ځني شیانو د سرته رسولو په باره ستاسو د مواظبت او علاج په نظارت شوي تولنیزعلاج په دوره کي شکایت وکړي ، لطفاً د کارکونکو د یوه غړي سره خبري وکړي. کیداي شي چه دوي قادر وي چه موضوع ته حل کړي . همدا راز دوي کولاي شي چه تاسو ته ستاسو د مسؤل روغتون د شکایاتو د طریقي په باره کي معلومات درکړي، چه تاسوو کولاي شي د هغه په استفادي خپل شکایات د هغه له لاري جوړ کړي چه د داخلي حل په نامه یادیږي. همدا رنګه دوي کولاي شي چه تاسوته د ځني خلکو په باره کي چه هغوي کولاي شي ستاسو شکایت ته رسیدګي وکي خبري وکړي.

تاسو هم کولاي شي چه یوه مستقل کمیسون ته شکایت وکړي. کمسیون نظارت کوي چه د دماغي روغتیا د مقرراتو ځرنګه استفاده کیږي ، اطمنان حاصل کړي چه هغي ته په صحح توګه استفاده شوي دي او دغه ناروغانو ته د هغه وخت ځخه چه

## زیادتر مرستي او معلومات

که چیري دلته ځني شیان ستاسو د مواظبت او علاج په باره کي وي چه تاسو په هغه نه یاست پوه شوي، ستاسو د معالجي د پاره مسئول شخص او یا د کارکونکو نور غړي کوشش کوي چه تاسو سره مرسته وکړي. لطفاً د دوي څخه پوښتنه وکړي چه ستاسو د پاره تشریح ورکړي که چیري ځني شیان په دغه نشریه کي ستاسو دپاره واضح نه وي او یا ته پوه نشي او یا که چیري تاسو بله پوښتنه لري چه دغه نشریه کي ځواب نه دي ورکړ شوي .

لطفاً پوښتنه وکړي که چیري تاسو علاقمندي لري چه د دغه نشریي یوه بله کاپي د یو بل چا دپاره ورکړي.